___/___/202    Day: ______

سوال: د حمید بابا په شاعرۍ کښې د سوز او ګداز خصوصیات د نعفه د نازک خیالۍ په ژبه کښې څرګند کړئ۔

حمید بابا له دخیل سوز او ګداز د نازک خیالۍ په ستن کښې د پېیلو چل ډېر ښه ورزلو ځکه خو دوئ ته په ادبي دنیا کښې موشګاف ویلے شي لکه ښاغلي پیر محمد کاکړ وائي چې:

پس له دوه موشګاف عبدالحمید دے
چې ئې اووې ښه نازک نکته دان شعر

د حمید بابا شوخیل ژبالۀ شاعري په مینه کښې د سوزېدو او لمبه کېدو په باره کښې دوه ډېر په ځچه ډول. دغه درد د الفاظو په نفاست او باریکۍ ښائسته کړے دے او چې څوک د دۀ دغه اشعار لولي نو ډېر خوند او مزه ورکوي۔ اوس د حمید بابا د شعرونو نمونې وړاندې کوو او ګورو چې دوئ د سوز او ګداز کیفیت د نازک خیالۍ او تشبیهاتو په ژبه څه رنګ ظاهر کړے دے۔

ډېرو اوښکو مې صورت له بوره پوست
خیږو زر په پلوشې دا دیوال د ډېره نمه

په دې شعر کښې شاعر د نازک خیالۍ او
تشبیهاتو بهترین استعمال کړے دے او د خپل غم
او تباهۍ اظهار ئې کړے دے۔ شاعر وائي
لکه څنګه چې د کمزور دیوال لاندې اوبه وي
او د دې اوبو او نمې له وجې ډېر
امکان وي چې دا دیوال چې په ښکاره
مضبوط ښکاري ډېر زر لوېږي، هم دغه شان
د یار په غم کښې چې زما کښې اوښکې جهیږي
لږ دغه اوښکو مې دا وجود کمزورې کړے
دے او قوي امکان دے چې ډېر
زر به د یار په غم کښې ختم شم۔

۲ لکه سر د پسه په اور غاښونه سپین که
همسې ما لره د غمه خندا راله

دا لوبل شعر دے چې د حمید بابا
د نازک خیالۍ او تشبیهاتو شاهکار دے۔
دا شعر هم په مینه کښې د وجود د خرابېدو
او بدرنګه کېدو خبره کوي۔ حمید بابا وائي
چې لکه پسے د څټولو دپاره د اور دپاسه
زوړند کړے شي لږ د اور د ګرمۍ او تپ
له وجې د پسې ګوښت د خه نه وسوزي
او داسې ښکاري لکه دا پسے چې خاندي
څنګه چې صرف غاښونه ئې پاتې وي چې

سپین ږلیګي ـ هم دغه شان که زه په
خدا ښکارم یا خوشحاله ښکارم لو په اصل
کښې زه خاندم نه بلکې د یار د غمونو لمبو
مې د ځګر سیر ختم کړې دے او صرف
عاشقونه مې په ځګر سینې ښکاري ـ

خط په مخ د صنم دائے، که سیوری شوه په هاله کښې
دائې عاشق په قوله کښې زیب کا، که ژاله شوه په لاله کښې

کښی ژړل سحر جادو کا، په نظر د ښهلا سترګو
نه ئې سیال په هندوستان شته دے نه ثاني په بنګاله کښې

لکه وښلې مرغۍ په سس دام د سلو لوګو
کښی ژړل پریشانه زلو کښېوایستم په کشاله کښې

دا زماله غمه شین زړه پکښې خیال د یار د شونډو
کښی ژړل زیب او زینت کا، لکه مې په شنه پیاله کښې

سرې پاله غم د هجر لکه نې سورلے سوری کړم
ځکه یم مدام داسې په فریاد او په ناله کښې

که یار غواړې همره ګواره تو درځي عبدالحمید صرف
دا په داچې در مونږه شي، په دریاب، نه په ناله کښې

___/___/202 Day:______

دا شعرونه په صحیح معنو د حمید بابا د نازک خیالۍ په ژبه کښې د دغه ده سوز او ګداز عکاسي کوي۔ د هر یو شعر بیله بیله تشریح په زړونو پوهه لوره هم ښه کړي۔

په وړمبي شعر کښې شاعر د خپل جانان صفت کوي او د دغه تشبیه د سپوږمۍ سره او د دغه د زلفو تشبیه د وریځو سره ورکوي۔ په پیله مصرعه کښې د دغه نسبت د ګل لاله سره کوي او د دغه شاعر لو ته ګلچه وائي۔ غرض دا چې وائي چې زما د صنم مخ په خط داسې ښکاري لکه سپوږمۍ چې په وریځو کښې پټه شي او سپین عاشقونه ئې په سور مخ داسې لګي لکه په ګل لاله کښې چې ګلچه نښتي وي۔

په دویم شعر کښې د خپل جانان د لوړو سترګو صفت ئې په دا ډول کوي چې زما د اشنا لوړې سترګې داسې جادوګرې دي چې د هندوستان او بنګال جادو ئې هم په مقابله کښې نه دے۔

په دریم شعر کښې خپل تکلیف د نازک خیالۍ په بهترین انداز کښې بیانوي۔ وائي چې د خپل یار تورو زلفو داسې تکبر کړے لکه یوه مرغه چې د سلو لوړو په لوسې دام کښې پره

شي چې د ښکېلېدو طمع يې هم نه وي. په دې شعر کښې شاعر د يار د زلفو تشبيه د دام سره او خپله تشبيه د لېو ساده مرغنو سره ورکړې ده.

په څلورم شعر کښې حميد بابا د خپل زړه حالت بيانوي چې د غم د لاسه شين دے؛ خو په دغه شين زړه کښې د يار د شونډو خيال داسې ښائسته ښکاري لکه شراب چې په شنه پياله کښې ښائسته ښکاري. مطلب دا چې د يار غم په تکليف کښې کړې يم خو بيا هم د يار حسن چې په خيالونو کښې داسې پروت دے چې ما خوشحاله اور مطمئن ساتي.

په پينځم شعر کښې حميد بابا د نازک خيالۍ يو خوندوره نمونه پېښ کړې ده. وائي چې زما د الفاظو خبرې چې خوږې لګي لو دا په حقيقت کښې زما فرياد دے چې غمونو سوړې کړې يم. څنګه چې د شپېلۍ د سوړو نه ښائسته او زړه پورې اوازونه راوځي هم دغه شان زما ښائسته شعرونه که خوږه دي لو څکه چې د جانان غمونو سوړې کړے يم.

په ۱۰ اقرې شعر کښې عبدالحميد بابا د خپل يار د حالولو يو امېد څپله ژړا

مشهور دی ده - حمید بابا وائي چې که څېرنه غواړې
چې یار زما شي او زما سنګ لعل راشي نو
د کعضې واحد حل دا دې چې د خلکو په
مجلسې په لوفه پسې ځاړه او فریاد ورپسې
کوه - ځان د اوښکو په سمندر لاهو کړه
او د غم او فریاد عمر په مطبوع کړه ځکه
چې موتي په ناله کښې نه وي بلکه
دریاب کښې پیدا کیږي - مطلب دا چې د
قیمتي څیز په اسانه نه پیدا کیږي بلکه
د کعضې دیاره سختې او خوارې لکار ده.

مختصر دا چې عبدالحمید بابا خپل غم او
درد د تشبیهاتو او نازک خیالۍ په شکل
په ښائسته انداز ظاهر کړے دے - دۀ
په صحیح توګه د پښتو د بیدل کردار ادا
کړے دے او په پښتو شاعرانو کښې نې
یو ځانګړے لوم پیدا کړې دی - خدائے دې
کې چې پښتانه د حمید بابا د پښتو ادب
دیاره د خدماتو معترف اوسي - آمین